قسم خوړل د مال خرڅولو (پلورلو) لپاره وسیله، خو د برکت ختمېدو سبب ګرځي

له ابوهریره -رضي الله عنه- څخه روایت دی وایي چې: ما له رسول الله -صلى الله عليه وسلم- څخه اوریدلي چې ویل یې: "قسم خوړل د مال خرڅولو (پلورلو) لپاره وسیله، خو د برکت ختمېدو سبب ګرځي".
[صحیح دی] [متفق علیه دی]

نبي صلى الله عليه وسلم له ډېر قسم خوړلو څخه منع کړې ده، که څه هم یو څوک په راکړه ورکړه کې په خپلو خبرو کې رښتینی وي، هغه ویلي چې قسم د مال د مشهورلو سبب کېږي خو د ګټې برکت له منځه وړي، همدارنګه کېدای شي الله تعالى ورته داسې څه پېښ کړي چې مال یې پکې له‌منځه لاړ شي، لکه غلا، اور، ډوبېدنه، په زبردستۍ اخېستل، چور او داسې نور ناورینونه چې شتمني یې وسره له منځه لاړه شي.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/5936